مطبوعاتي خبرپاڼه

د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو په بهیر کي د اداري فساد پر وړاندي د زیانمننو د ارزوني په تړاو د څارني او ارزوني خپلواکي ګډي کمیټي خانګړی رپوټ

کابل- د ۱۳۹۵ کال د وړي ۱۷ مه - د اداري فساد پر وړاندي د څارني او ارزوني کمیټه نن د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو په بهیر کي د اداري فساد پر وړاندي د زیانمننو د ارزوني په اړه خپل خانګړی رپوټ خپروي. یاد رپوټ د هیواد د نفتي توکو او بلن ګاز د واردولو د بهیر د حقوقي جوړښت، مدیریت او عملي اجراتو ننګوني ارزوي. د نفتي توکو او اوبلن ګاز په بهیر کي شته زیانمنني ددي لامل شوي چي د ګمرکونو لسګونه میلیونه ډالره محصول ضایع او قانون ماتوني، د نفتي توکو قاچاق او مافیا ته لاره هواره شي.

د نفتي توکو او اوبلن ګاز د پانګوالو څخه د ملاتړ د پالیسیو نه شتون او د قوانینو او کړنلارو په نظر کي نیولو پرته د وزیرانو د شورا لخوا د مصوبو صادریدل د اندیښني وړ دي. د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو په بهیر د هیواد نافذه قوانین په پام کي نه نیول کیږي. د نفتي توکو په چاپ ځایونو کي د سوداګرو په لسګونه میلیونه ډالره پانګه له رکود سره مخ شوي او د یادو تاسیساتو سلګونو کارکونو خپلي دندي له لاسه ورکړي دي.

د نفتي توکو یوه ستره برخه په قاچاقي ډول هیواد ته راواردیږي. په بندرونو کي ځیني تجهیزات لکه سکنرونه، ترازوګاني او د توکو کیفیت د کنټرول لابراتوارونه د ځینو کارکونو لخوا د مدیریتي کمزورتیا او د پالیسیو د نه پلي کولو له کبله په لوي لاس ویجاړ شوي. د ترمیم او بیا فعالولو د لګښت سربیره، د بندري تجهیزاتو تخریب او ویجاړولو د توکو قاچاق، بډو او د ګمرکي محصولاتو د ورکړي څخه تیښتي ته لاره هواره کړي ده. په نوموړي بهیر کي د سمي رهبرۍ او مدیریت نشتوالی، ښکته وړتیا، او د اړینو تجهیزاتو نشتوالی، د یادو ستونزو د زیږیدو اصلي لاملونه ګڼل کیږي. د بیلګي په توګه، که څه هم چي د نفتي توکو او اوبلن ګاز تصدۍ یوه انتفاعي اداره ده خو نوموړي اداره د ۱۳۹۴ کال تر پایه څه ناڅه ۴ میلیارده افغانۍ پوره وړي وه. همدارنګه له یادي اداري څخه ترلاسه شوي ارقام دا ښیي چي یواځي په ۱۳۹۴ کال کي د خدمتونو د وړاندي کولو له درکه څه ناڅه ۱۷.۹۶ میلیونه ډالره د راټولولو څخه پاتي شوي دي. د افغانستان د خلکو لپاره روان وضعیت نور د زغملو وړ نه دی او د څارني او ارزوني کمیټه(MEC) د افغانستان له حکومت څخه غواړي چي د یوه ځانګړي کمیسیون په ټاکلو سره بهیر په هر اړخیزه توګه وڅیړي، د قضیي عاملین په ګوته او د لوي څارنوالی عدلي مرکز ته د عدلي تعقیب په موخه معرفي کړي او په ګمرکونو کي دي سم میکانیزم رامنځته کړي چي د ناوړه ګټي اخیستني مخه ونیول شي او د ګمرکونو د عوایدو د پوره راټولولو څخه ډاډ ترلاسه شي.

د نوموړي بهیر د دوو مسؤلو ادارو (ګمرکونه او د نفتي توکو د تصدۍ ریاست) د ارقامو تر منځ زیات توپیر لیدل کیږي، د بیلګي په توګه په ۱۳۹۴ کال کي هیواد ته د وارد شوو نفتي توکو په تړاو د یادو ادارو د ارقامو تر منځ په سل هاو زره ټنه توپیر موجود دی چي د څارني او ارزوني کمیټي د اټکل پر بنسټ ګمرک لدي درکه ۷۰ ملیونه ډالره زیانمن شویدي.

اداري فساد، د معیاري سیستمونو نشتوالی، او د وارد شویو نفتي توکو د کیفیت په کنټرول کي د انسا(ANSA) اداري ناتواني هیواد ته د بې کیفیته نفتي توکو او اوبلن ګاز واردیدو ته لاره هواره کړي ده. سربیره پر دي، د نړیوالو ځواکونو د اړتیا وړ مالونو د واردولو لپاره د ګمرکي محصول څخه د معافیت اوسنی میکانیزم د نفتي توکو ځینو واردونکو ته د معافیت له نوم څخه ناوړه ګټي اخیستني ته موقع برابره کړي ده. نړیوال ځواکونه او د افغانستان د مالیي وزارت سره سلا شوي چي یاد بهیر ته بدلون ورکړي، خو یواځي سلا کیدل بسنه نه کوي. د څارني او ارزوني کمیټه له دواړو لوریو څخه غواړي چي د روان بهیر د بدلون او د ناوړه ګټي اخیستي د مخنیوي په موخه دي سم دلاسه وړاندي شوی هوکړه لیک لاسلیک او پلي شي.

یادو زیانمنو ته په پام، د څارني او ارزوني کمیټي د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو د بهیر د سمون او ښوالي په موخه اړوندو حکومتي ادارو ته ۳۶ سپارښتني وړاندي کړي دي. په قوانینو کي بنسټیز اصلاحات، په ټولو د قانون د یوشان پلي کولو په وړاندي د شته خنډونو له منځه وړل، د اغیزناکي رهبرۍ رامنځته کول، د واردولو د بهیر د مدیریت سیستم پیاوړي کول، د ګمرکي ادارو سم تجهیزول، د تشکیلاتو او بشري سرچینو اصلاح او د نړیوالو او کورنیو ځواکونو د اړتیا وړ نفتي توکو د ګمرکي محصول څخه د معافیت اغیزناک مدیریت په یادو سپارښتنو کي شامل ټکي دي.

د لا ډیرو مالوماتو لپاره له موږ سره په اړیکه کي شئ :

- **ګرځنده تیلیفون:** ***0797515871***
- **د بریښنالیک پته:contact@mec.af**

او همدارنګه د اداري فساد په اړه د نورو مالوماتو د تر لاسه کولو په موخه زموږ ټولنیزې رسنیو ته ته سر ورښکاره کړي:

- ***www.mec.af***
- mec.afghanistan
- .@mec_afghanistan